بسم الله الرحمن الرحيم

# پر پښتو شعر
# د جنگ اغېزې

عزت الله شمسزي

۱۶ جوزا ۱۳۸۱
دافغانستان د بشر د حقونو خپلواک کمیسیون


**کتاب پیژندنه**

**دکتاب نوم:** پر پښتو شعر د جنګ اغېزې

**لیکوال:** عزت الله شمسزی

**خپرندوي:** د افغانستان د بشر د حقونو خپلواک کمیسیون

**ایډیټر:** خوشال خلیل

**دپښتۍ طرحه:** محمد مظفري

**ډیزاین:** محمدتقي حسن‌زاده

**چاپشمېر:** لومړی وار ۵۰۰ ټوکه

**چاپځای:** د کمیسیون چاپ خونه

**نیټه:** ۱۳۹۱/ مرغومی

**پته:** ۶ مه ناحیه، پل سرخ، کارته سه، کابل، افغانستان.

**ټیلفون:** ۰۰۹۳(۰۲۰)۲۵۰۰۶۷۶-۲۵۰۰۶۷۷

**بریښنالیک:** aihrc@aihrc.org.af

**ویبپاڼه:** www.aihrc.org.af

## لړلیک:


| | |
|---|---|
| سریزه | ۱ |
| جنگ او شعر | ۸ |
| د جنگ د شعر موضوعات او مضامین | ۱٦ |
| تحمیلي جنگ او افغانان | ۱۹ |
| په شعر کې د انساني تلفاتو انځورونه | ٤۲ |
| ملي شتمنیو او چاپېریال ته اوښتي زیانونه | ۷۳ |
| دماشومانو متاثره کېدل او د ښوونځیو سوځېدل | ۷۹ |
| په شعر کې د ورځنیو پېښو انځورونه | ۸۵ |
| په شعر کې د جنگ اصطلاحات | ۱۰۵ |
| سوله په شعر کې | ۱۱۲ |
| پایله | ۱۲۱ |
| اخځونه | ۱۲۳ |

## د دې کتاب په اړه

ادبیات او هنر له بشري حقونو سره ژوره اړیکه لري، په اروپا کې له منځنیوپیړیو را وروسته د ویښتیا او روښانتیا په دوران کې همدغه ادیبان او هنرمندان و، چې په خپلو هنري شاهکارونو کې یې د انسان کرامت او مقام ته د درناوي ذهنیت جوړ او په فکري لحاظ یې ټولنه دې ته چمتو کړه چې انسان ته دې د هغه د انسانیت په خاطر درناوی وشي. له هغې پسې د دوو نړیوالو جګړو پر مهال چې بشري ټولنې ته کوم زیانونه واوښتل، همدغو ناخوالو ته په کتو، لویدیز کې د جنګ ضد شاعرۍ مفهوم رامنځته شو او د جګړو او بربادیو په ضد د شعر لیکنې لړۍ پیل شوه، چې د جګړو د دوران ویجاړې او وژنې په کې په ښکلې هنري بڼه انځور او غندل شوې وې. له جنګ جګړو او وحشت نه ستړې شوې د هغه مهال نړیوال سیاسي، ټولنیز او فکري حالت ددې زمینه برابره کړه چې د ملګرو ملتونو د سازمان له جوړیدو لږ وروسته په ۱۹۴۸ کال کې د بشر د حقونو نړیواله اعلامیه تصویب کړي، چې په هغه کې د ټولو انسانانو پر طبیعي حقونو په ځانګړې توګه د ژوند او انساني کرامت ته د درناوي حق پر خوندیتوب ټینګار شوی دی.

د جنګ ضد شاعري کوم داسې مفهوم نه دی چې په هغه کې دې د مشروع دفاع حق او د هیوادنیو ملي جګړو مفاهیم تر پوښتنې لاندې راشي، او یا خدای مه کړه هغه تاریخي حماسې دې وننګول شي چې د استبداد، ظلم او بې عدالتیو پر وړاندې د مقاومت په ترځ کې پنځول شوي دي. بلکې د جنګ ضد شاعرۍ کې د جنګ او تاوتریخوالي نه کرکه او بیزاري انځور شوې ده، د جنګ ضد شعرونو کې د جګړو هغه کرغیړنې شیبې او پیښې ثبت شوي دي چې زموږ ټولنه یې منفي پایلې لا هم احساسوي. د جنګ ضد شاعر معمولا په دې هڅه کې وي چې په مستقیم ډول له جنګ او تاوتریخوالي نه خلک را وګرځوي، څو په ټولنه کې بشري کرامت ته درناوی تعمیم او معنا پیدا کړي. دلته د شاعر له انده جنګ هدف او وسیله نه ده، بلکې جنګ هغه ویجاړونکې پدیده ده چې نه یوازې کورونه، ښارونه او باغونه ورانوي بلکې د افغانانو نفس او انسانیت ته هم زیان اړوي.

سیاستوال سوله د مذاکرې، پخلاینې او اوربند په څیر مفاهیمو کې لټوي، خو سوله